**ليکونکی : میدیا لینس (Media Lens)**

**منبع او خپریدو نیټه : ګلوبال ریسرچ « 31-08-2020**

**ژباړونکی : پوهندوی دوکتور سید حسام «مل»**

-------------------------[95]-------------------------------

# دوژني د دوامدار نه تمیدونکی ما شین حرکت په عراق اوافغا نستا ن کي دانګلستان دځانګړو ځواکونوله خوادملکی وژل شوخلکو پټ سا تل یا پوښل

## 'A Perpetual Motion Machine Of Killing': Alleged Cover-Up of Civilians Murdered by UK Special Forces in Iraq and Afghanis




د اګست میا شتی په لمړي نیټه ، یوه نادره ژوره څیړنیزه توټه ( لیکل شوی فطعه) د باوروړ اوجدي تورونو پراسا س چې د انګلستان ځا نګړي ځواکونو په افغانستا ن کې بې وسلې ملکي وګړي اعدام کړي د بی بی سی نیوز ویب پا ڼه کې څرګند شو. د بی بی سی مقا له د هغه راپور سره په همغږی کې خپره شوې ، چې د " افغانستان د بی قانونه اونه کنترول کیدونکی د اجرایوی ډلی کړنه " کوم چي د بریښنا لیک پواسطه افشا شوې "، د سنډی ټایمز لخوا خپره شوې.

*دغه ځانګړي ځواکونه د انګلستان غوره متخصص سرتيري دي ، چې دواړه دځانګړی هوايی سرويس(ځانګړي هوايی خد مت = SAS ) او SBS (د ځانګړي کښتی ياد بيړی چلولو د ندی ) لري. د دوه لوړ پوړو افسرانو لخوا دا تور يا تهمت دا دی چې د برتا نيا ځا نګړي ځواکونو "قصدي پا ليسي" درلوده چې په ا فغا نستا ن کې د طا لب مشرا نو د وژنې په پلمه په غيرقا نوني ډول سره بې وسله وال وګړی و وژنې.*

*دا نوی افشا ګری يا راز څيړل د هغه سند ونو پر اسا س دي چې په دی وروستيو کی د* ***وکيلانوته د لولی ورځي** [= solicitors Leigh Day ، **دلولی ورځی نها** د د« 30»*
*کلونو څخه ډ ير تجربی لري ، يعنی دخلکو ډ له ايز استا ذ يتوب کولو لپاره چې ورته ملی لخوا اغيزمن شوی ، دواړه په انګلستان اوهم په نړيواله کچه ، ځنی وختونه ددی ډلی شميرزرګونو ته رسيدلي ، په نورو ځايونو کي دا ډلی دشمير له مخه کوچنی دي ، تا سو کولی شي په دي پا نه يا صفحه کي زمونږ د ځينو اوسنيو قضيو يا واقعا تو په اړه ولولي ...... تفصيل ددی قلم پواسطه سره] په ارتبا ط يی په عا لی محکمه کی د يو افغا ن سړی « **سيف الله غريب يار** » لخوا راوړل شوی قضيی ديوی برخي په توګه خپا ره شوي ، هغه وايي :چي ددي دکورنی ځلور غړي دهلمند په يو کليوالی سيمه کې دشپی په چپاو کی دفبروری په (16) کال (2011)کی د شپی په يوبريد کي دډزو سره په قتل ورسيد*



*solicitors Leigh Day*

*دانګلستان حکومت ادعا کوي چی د(**سيف الله غريب يار** ) دکورنی دغه ځلور غړي له دی وجهی په قتل رسيد لی کوم چي زمونږ سرتيری د خپل ځان څخه دفاع کوله يعنی چي زمونږ سرتيری تر ير غل لاندی راغلي وه ، مګر نوی خپاره شوی اسناد ددی ادعا سره مخا لف دي لکه څنګه چي د «بی بی سی » مقاله داسی يادونه کوي :*

*[ يوائی څوساعته وروسته له دی چي انګليسی نخبګان ( اشراف او اشخاص ) يا اصلی اشخاص دسرتيرو بارک ( چونی) ته ستا نه شوی ، نور **بريتا نييا وی** سرتيری بريښنا*

ليکونه سره تبا د له کړي چي ددي شپی پيښی دوروستی قتل عام په نوم توصيف شوی دي ]

يا بل عبارت ، دا لومړی پيښه نده چې د ځا نګړو ځواکونو لخوا د بې وسلې ملکي وګړو وژنې پيښې شوې وې.

د «**سيف الله** » کورنۍ د سها ر په يو بجه بيده وو کله چې نا څاپه دوی د چورلکو د را تېرو ( چرخي )غړونو ته راويښ شول ، ورپسې د **ميګا فونونو** له لارې چيغې وهلې.

**سيف الله** يو تنکی ځوان و ، چې د ځانګړو ځواکونو د وژلو يا نيول کيدو د مامورينو له خوا ونيول شو. هغه بی بی سی ته وويل چي وروسته څه پيښ شوي:

'«زما ټول بدن د ويرې له امله لړزېده. هرڅوک وډار شو. ټولې ښځې او ماشومان ژړل او چيغې وهلې" .

د هغه لاسونه تړل شوي و او هغه د ښځو او ماشومانو سره په يوه ځای کې اچول شوی يا چي زنداني شوی وو.

## د بي بي سي راپور دوام لري:

"هغه د اوږدې مودې لپاره نه و کله چې هغه د ډزو غږونه واورېدل.

"وروسته لدې چې سرتيري لاړل ، د هغه يعنی د(**سيف الله**) د دوه ورونيو جسدونه د هغه د کورشاوخوا سيموکې وموندل شول. دهغه تره د ګاونډي په ودانی کې په ډزو وژل شوی وو.

**« سيف الله** »خپل کورته ستون شو اوخپل پلار يې وموند چي مخ يې په ځمکه پروت و.

"" د هغه سر ، د تندی ساحه ، د ډيری ګوليو سره ويشتل شوه وه، او پښه يې د ګوليو په واسطه په بشپړ ډول مات شوی وو. ""



دانګلستان دځانګړو ځواکونو رسمي لوړ پوړي چاروا کو ددی وژلو په اړه پخپل راپوررونو کي ادعا کړل چي برتانوی سرتيري دافغان سرو يادافغا نی اشخا صو لخوا په وسلو سره سمبا ل په مرګ ګواښول شوی وه اوبيا په ځانګړي توګه په رسمي راپور کي ادعا وکړو چي انګليسی سرتيری د محوطی د امنيت له تامينولو څخه وروسته کله

چې دهغه کور خونې تلاشی کول نو دهغه خونې کوم چې کورنې په بند کې سا تلې وه یوسړي سره مخا مخ شوچې هغه سړی د پردی شا ته شو او غوښتل چې خپل لاسی بمب پکارواچوی ، چې په دی وخت کې زمونږ د سرتیرو د مسلسل ډزو سره مخامخ کیږی کوم چې په نتیجه کې زمونږ سرتیری مصون پا تې کیږی دهغه سړی په لاس ، لاسی بمب نشي پکار ولویدلی یعنې چې هغه لاسی بمب نه چویي.

ځا نګړي ځواکونو ویلي : د څلورو نورو ملکې ا فغا نې وګړو څخه یو بل هغه مها ل ووژل شو کله چې هغه ته وویل شو هغه بل ودانې ته د کلکین د پردی خلاصولو لپاره لاړ شی یا چې هغه یې ولیږل چې په هغه بل ودانې کې پردی را خلاصه کړي نوهغه افغان په قوی احتمال سره نیت درلودچی دخپل لاس په ټوپک سره پربریتا نا یې سرتیری ډزی وکړی نوله همدی امله دځواکونوځوابیه یا دتیارسی دډزو پواسطه سره وژل شوی .

بی بی سی یادونه کړي ،دبرتا نې پراردو بندی دوژنورسمی شمیریا حسا ب د یو شمیر خلکو له خوا د شک سره مخ شو ، د سندي تا يم (Sunday time’s) په تفصیلی مقاله



**کلاشنکو -47**

کي دلوړ پوړو افسرانو بې ځوابه غبرګون شامل دي چې دځانګړو ځواکونو په لوستلو کي داسی یا دونه کړي :

« اساساً دڅه لپاره باید په تیرو دوه اونیو کي لسم ځل وي ، ځکه چې دوی[یوافغان سړی] بیرته [ ودانی ] ته واستاوو ترڅو په هغه ودانې کې پردی را خلا صه کړي؟؟؟ هغه د [ AK = د کلاشنو «» مسلسل ټوپک ] سره ظاهر شو .

د پوځ په د ننه یا داخلي بیغام کي د رسمی ځانګړي ځواکونو د راپور په لنډ یز کي دا هم شا مل وه اوداسی ویل شوی وو : تا سو دا نشي جوړولي ؟

نودپورتنی یادونو څخه داسي په نظر راځی چې ځانګړي ځواکونه دا به چمتو کړي وي .

د بی بی سی اود سنډی ټایمز په مقا لوکي جدی تورونه یا تهمتونه دتیرنومبرپه میاشت کی دحکومت اعلامي په پا یله کي دپا نوروما (panorama) پروګرا په تعقیب سره د(جنګی رسوا یی اومفتضحی یا نا وړی جنا یا تو) اوپه افغا نستا ن اوعراق کي دجنګی جنایاتو دڅیړلو اود تحقیق بندول یا درول مخکی له دی چې د سرتیری څخه دهغه دجرم تحقیق ترسره شي دتحقیق درول وه پانوروما دسنډی ټایمز د نا ظر تیم سره همکاری وکړ اودغیر قا نونی قتلونو د نمونی په اړین شواهد کوم چې دا ډول قتلونه د انګلیس دځا نګړی ځواکونو پواسطه سره تر سره شوی وه را وڅیړل . په دی برخه کی د (بی

بی سی ) خبریال ریچا رد بیلتون (Richard Bilton) دانګلستا ن له کارپوهانو کوم چی هغوی مخکي د عراق تا ریخی اداری تیم (Iraq Historic allegation Times) پوری اړین کسان وه کوم چي د لمري ځل لپاره د هغوسره ولیدل چي په جرمونو سره دانګلیس د مشکوکو سرتیرو د تعقیبولو څخه با ید څه ډول مخنیوی وشی خبری اتری وکړ ، دا کارپوها نو په دي با ور وه چي د ا نګلیس د فاع وزارت او لوړ پوړي نظا می افسران دغیر قا نونی قتلونو او وژنو کی خپله لاس لرل کوم چي دا ډول پیښی با ر با ر په عراق او ا فغا نستا ن کی راپیښی شوی دي .

عراق ته تاریخی اداری تیم ( IHAT)په کال « 2010 » کې دانګلستان د کار ګر ګوند د حکومت لخوا رامینځته شوی.مګر،لکه ځنګه چي بیلتن (Richard Bilton) د پینورما (panorama) لپاره یادونه کړې:

دغه نـها د"د کلونو کار کولو سره سره ، [په عراق کې] د برتانیا سرتیرو پروړاندې د نږدې(3400) تورونو ( allegations) یا پیښو څخه یوه انګلیسی سرتیری هم نه وه محاکمه شوی."

هغه خپل څرګندونو ته ادامه ورکړه:

«‘بیا ، په( 2017 ) کې ، محافظه کاره حکومت( IHAT ) بند کړ. حکومت ادعا وکړه چي دا د یوه وکیل د کارونو په اړه دی. فل شینر (Phil Shiner) د عا مه ګټو مدافع وکیل و ، کوم چي یو قانوني شرکت« IHAT » ته یې تر زرو قضیو ر یا پیښی ور سپارلی وه. هغه دهغه تورونوڅخه وروسته چې هغه په عراق کې د مشتری دمیندلو لپاره متصد یا نو ته پیسی یا بډی ورکړی وه له دندی څخه ګوښه کړ شو

په مني کې د محا فظه کاره ګوند کانفرانس ته د هغې وینا په جریا ن کې ، لومړۍ وزیرې تریسا مي د دې ستا ینه وکړه چې :

مونږ به بیا هیڅکله په راتلونکي شخړه کې اجازه ورنکړو چې د کیڼ اړخ د بشري حقونو فعالین د خپلو وسله والو ځواکونوسره دپوځ نارینه او ښځینه زړورتیا مخه ونیسی یا هغوی و ځوروي.".

مګرلکه ځنګه چې د( IHAT ) یو پخوانی جاسوس پینوراما (panorama) ته وویل :‘

دا د « IHAT » بندولو لپاره ګټور، نه و؟ [پیغور لرونکي زغ = لحن کنایه آمیز].

تا سو عذ ر ته اړتیا نلرئ. ټول هغه څه چې تا سو به ویل یې هغه ، "سمه ، دي هرڅه اوس لرل شوي یا کرغیرن شوی دي. موږ ټول دا ویاړ لرو چي دخپل ځان سپیناوی وکړود عا مه ګټو مدافع وکیلان او فیل شینر- دا د ډیری د ند ولیرې کولو لپا ره د عذ ر په توګه کا رول شوی او وایي: چي د تا سو " IHAT »، بشپړ شوی".

لکه ځنګه چې بیلتون (Bilton) ولیدل :

فیل شنیر(Phil Shiner) قوانین مات کړل یا یی تر پښو لاندي کړل ، مګر ددی معنی

دا نه ده چي دعراقي ملکي خلکو لخوا تول لګول شوی ادعاګانی دروغ دي ، هغه کارپوهانو یا دپیښی کشف کونکی کوم چي مونږ ورسره خبری کړي وایي (IHAT) دسیاسی دلایلو له امله تړل شوی وو، دا یوه پوښتنه وه ، هغه زیا ته کړه :

« د(IHAT) سیا سی کارپوهانو وایي چي دولت هیڅکله نه غواړي چي دپوځ کوم یوه سرتیری محاکمه شي.

« پرته له دی چي ثبوتی دلایل څومره زورواک او قوی وي » .

په عین وخت په افغا نستا ن کي په ورته بڼی سره حکومت اعلان وکړ چي (IHAT) به وتړي ،دا پریکړي هم کړي ترڅو چي په شمال کي دعملیاتو دتورن جنګي جرمونو په اړه تحقیقات پیل کړي .

**بیلتون** وایی :

د **نارت مور**[( Northmoor = په انګلستان کی یوه وړه ښارګوټی دي] کشف کونکی یا کارپوها نو د **بریتا نیا** دځا نګړي ځواکونو له خوا داعدامونو تورونه وڅیړل او هغوی په لس ګونو مشکوک قتلونه دانګلیس ځانګړي قوتونوپوری اړین کوم چي هغوی دشپی له خوادخلکوپرکورونوبا ندی چپا وراوړی وه وڅیړل ، مګر **نا رت مور**( Northmoor ) مخکی له دي چي دوی حتی له مشهوروافغا نی شاهدانوسره مذاکره وکړي لاری دهغوی په مخ تړل شوی وه.

**هغه زیا ته کړه :**

ځنی وژل شوی کسا ن بی له شکه د طا لبا نو غړي وو ، خو ملګري ملتونو داسی قرار ورکوي یا داچی کره راپورنه تر لاسه کړي ، چي ایتلافی ځواکونو په افغا نستا ن کي تر (300) بی ګناه ملکي خلک وژلی دي .

دا یو لرځوونکی یا تیکا ن ورکونکی احصا یوی رقم یا شمیرنه ده ، شا ید چي تر ټولو ویرونکی یا بوږنونکی پیښه کوم چي د پا نوراما (Panorama) په واسطه سره څیرنه شوی د (2012) په اکتوبرکي دلوی باغ (Loy Bagh) په کلي کي دڅلورهلکا نو وحشیانه وژنه وه کوم چي هغه مها ل دوی دچای په څښلو بخت وه چي په ډزو سره ووژل شو اما **بیلتون** (Bilton) دهغو د وژنی په مورد کي دا سي راپور ورکوي:

«کارپوهانو کشف کړل چی دانګلیس د پوځ ځا نګړی ځواکونه دبرید په اړه حقیقت نه وایی یا له حقیقت ویلو څخه سترګي پټوي اوله هر څه نه مخکي پوځی راپوورونه د بریتا نیا د دخا لت په افشا کولو کي پا تي راغلي اودوی دهغه پر ځای هڅه وکړچي د ملامتی پړه پر افغان ځواکونو باندي واچوي یعنی د اور وژنی یو عام تکتیک.

یوکارپوه وایي چي دانګلستا ن ځواکونوپه غلطه ډول افغا نی ځواکونو ته دغه مشکوک مرګونه منسوب کړ کوم چي نو دهمدی اصل له مخی دبریتا نیا سرتیرو ونه پلټل شو.

هغه بریتا نیا یی سرتیری چي څلورهلکان یي په ډزو وژلي ، وروسته دا نګلستا ن جاسوسا ن یا کارپوها نو ته چي د ( IHAT) څخه کناره کوي ادعا وکړه چي هغه دوه

هلکا ن په ډزو وژلی ځکه چې دوی ودرید اودخپل لاس وسله یې راښکاره کړ اوکله چې هغوی له سیوری څخه بهر شو غوښتل چې ډزی وکړی چی د متقا بل ډوزو له امله ووژل شول .

## په افغا نستا ن کې جنګی جرمونه دانګلستان ددفاع وزارت له ځوا ورباندی برغولی ایښودل کیږي یعنی چې جرمونه پټوي .

مګر په خونه کې د ګولی څخه په د یوالونو کې درا پیدا شوی سوری شواهد دهغه روایت سره متنا قض دي اوهغه داچی هلکان سره په خمکه کی نا ست وه نه داچې هغوی ولاړوه یعنی را پیدا شوی سوری دهغه خونی په دیوال کې چې دغه هلکان نا ست اووژل شوی وه ټیت وه نه لوړ.

دا ډول نښی دوژنی له پیښی څخه دشاهدانو دشواهدو په هنداره شها دت کی وه چې دبریتا نیا دځا نګړو ځواکون له طرفه د (ځان څخه دفاع ) تورنید و (متهم کیدل) وروسته دچا پ شوی رسمی راپورونو یوه بیلګه ده . داستخباراتو پخواني افسر فرانک لیدویچ(Frank Ledwidge) پا نا روما (Panorama) ته وویل : چې دشپې له خوا د وژلو اویا دنیول بریدونه یا چپاو وړل هغه دجنګ جګړی دماشین نه تمیدونکی اویا نه ختمیدونکي تلپا تی حرکت دي اود نارت مور (Northmoor) پخوا نی کارپوها نو یا جاسوسا نو په دی با ور دي چې د « **سیف الله غریب یا ر** » له طرفه راوړل شوی قضیه یا پیښی ( چې مو مخکی له هغه څخه یادونه کړي وه ) دغه نمونویی وژنو د پټ سا تلو یو له بیلګو څخه دي کوم چې باید څیړل شوی وایي – هغوی داسی ادعا کوی چی دانګلیس پوځ اود هغه هیواد حکومت په عراق کې د (IHAT) په تړلو اوپه ا فغا نستا ن کې د (Northmoor) پوری د تړلی کسان عملیات له امله زیات شمیر قتلونه خوندی او پټ سا تل شوی دي .



## مارک اوربان (Mark Urban) دباور یا دایمان مدافع :

د« بی بی سی » نوی آنلاین تحقیقا تی قطعه یا جزوه (**piece**) چې دا ګست میا شتی **په** لمړی کې خپره شوی په ګډه دتیر نومبر په میاشت کې د **پا نوراما** (Panorama) پروګرام سره دجدی عامه ګټو لپاره د (بی بی سی) ژورنالیزم نښی نښا نی دي چې د انګلستان پوځ او حکومت دمعاینه کولو هڅه کوی آیا د (بی بی سی) نور خبریالان به

د (دفاع) اوبهرنـی چارومسولیت په غاړه لري په هلمند ولایت کي د(سیف الله غریب یار) دکورنـی دڅلورو غړو اعدام په قضیه کـي وروستـی انکشاف تعقیب کړي

په ځانګړي توګه ، د بی بی سی نیوزنیټ لپاره ډیپلوما تیک او د فاع مدیر **مارک اربن** ته پام وکړئ ،څوک چې هغه دعراق اوافغانستان په اړه راپورورکولوکی کلونه تیر کړي د برتانیا د حکومت د پا لیسیو او کټو سره سم د پروپاګند چوکا ټ کـي خورا ډ یر څه. د مثال په توګه ، د ما ښام معیا ري کـي د( 2015 ) تبصرې برخـي کـي ، ښاریا ن خوشحاله و چې د بریتانیا د لوړ پوړو نظا مي چاړواکو لخوا د سرې جګړې کیسه پراخه کړي:

'د انګلستان پخواني لوړپوړي نظامي مشرتا به ته د وینا پرمها ل ، تاسو **جنرال شیراف** یا د لوی درستیز پخواني مشر **جنرال پیټر وال** سره وینئ ، او استدلال کوي چې روسیه اصلي اند ېښنه ده. برید جنرال **سر ګریام لامب** ، د ځانګړو ځواکونو پخوا نی رییس ، یا جنرال **لارډ ډیویډ ریچاړډز** (د دفاع پخوانی رییس) په دې باور دي چې اسلامي دولت د لوبو اصلی بدلونونکی دی. د متحده ایالاتو ځینې نظا مي مشرانو یا ا ستخبارا تـي خلکو سره خبرې وکړئ او دوی د **چین** په اړه ډیر اند یښمن دي.

په هرصورت ، ددې راپورته کیدونکي ګواښونو په اړه د یوځه کولو لپاره د انګلستان په څیر هیوادونو وړتیا د سړې جګړې وروسته نافذ شوي ډراماتیک کټونو سره محدوده ده.

داوربان (Urban) له نظره په دننه کي په معکوس ویرګلونو(،) کـي دنوی درج شوی ګواښونو ته اړتیا نه وه ؛ بلکه دا په ساده ډول ذ کرشوې وه چې **چین** او **روسیه** انګلستان ته ګواښ کوي. په احتمال چې دا به لوید یځ وي چې **چین** او **روسیه** ګواښوي یا ممکن چې د تصور وړ نه وي.

لکه څنګه چې **جان پیلګر**په یوه نوې توټه یا قطعه کـي لیکـي چې په « 1945» کې په جا پا ن دمتحده ایالاتود اتومي بمونو دقربانیا نو په یاد کـي ، د شوروي اتحاد ښودلو لپاره چې د نړی رییس وو، لیکی:

نن ورځ ، له « 400 » څخه ډ یرد امریکا نظا مي اډو نږدې **چین** د توغند یو ، بم غورځونکو ، جنګي کښتیو او اتومي وسلو سره محاصره کړی. د آستر الیا شما ل څخه د **ارام سمندر** له لارې سویلي ختیځ آسیا ، **جا پا ن** او **کوریا** او په ټول یوریشیا کې له افغانستان او هندوستا ن پورې ، دا اډې تشکیل شوي ، لکه څنګه چې د متحده ایالاتو یو. ستراتیژیست ما ته وویل ، "کامل پوزه". "

مګر ،لکه څنګه چې داوربان (Urban) په څیرد غربي تبلیغ کونکو لپاره ، د **اورویلین** چوکاټ چې موږ یې یوازې ' دفاع کوو' زموږ د ژورنا لیزم تاسیس شوي دوستا نه ژور ځای لري.

لکه څنګه چې مو  مخکې یا دونه وکړه ،   اوربان (Urban)  په خپلواک کې د دفاع پخوانی خبریا ل دی. هغه د نهو میا شتو لپاره د منظم افسر په توګه په بریتا نیا کې دنده ترسره کړې او څلور کا له یې په حوزو کې خد مت کړی.  هغه په ( بی بی سی ) کې د رینتینې جنګ جګړو لړی کوربه توب  کړی ، د وخت کما نډران ، کلیدي  جنګونه  بیا فعا لوي. هغه د څو کتا بونو لیکوال هم دی: **کوم چې په لاندی ډول دي** :

1- دشوروی ځمکنی ځواک (1985).

2-  جنګ په افغانستان کې (1987) .

3-  دنوی هلکانو قواعد :  ځانګړی هوایی سروی (SAS)  اوداېرلېند  جهوری پوځ  په وړاندې  پټه مبارزه (1992) .

4-  دانګلستان ا لفا سترګې (UK Eye Alpha) دانګلستان دننه په استخباراتو کې(1996)

5-هغه سرې چې د**نا پیلیون**کوډونه (codes) یې مات کړد**جورج سوپل** کیسه ( 2001)

6- ریفلیز (Rifles) د ویلینتونګ (welligton)  افسانوی  شارپشوټر (sharpshooter) سره شپږ کا له (2003) .

7-  **جنرالان** : دبریتانیا  لس قوماندانان چې نړی یې جوړ کړل (2005) .

8- **فوسیلیر**(fusiliers) په امریکا کی سور  رنګ کرتی  (Redcoats) سره  اته کا له (2007).

9- د ټا سک فورس تور : په عراق کې د پټو  ځا نګړو  ځواکونو  د جنګ   توضیحی رینتینی کیسه (2010).

10- د ټانک جګړه  : د بریتا نیا  د « ورونو با ند » دیو ټا نک رژیم  د دویمی نړیوال جګړه کی (2014) .

11-  څنده :  آیا د ولوید یځ  نظا می برلاسی یا تسلط  په ختمیدو دي ؟ (2015) .

12- د**سکیرپال** (Skirpal  Filies)د روسی جاسوس ژوند اودهغه نژدی مړنه یا مرګ (2018) .

مونږ  د اګست  په دریمه ، **داوربا ن** (Urban)  تویټر حسا ب چک کړ  یا مو ولید ل کوم چې هغه یادونه وکړه چې هغه به افغانستان کی دځانګړي ځواکونو ترتیلو سر سری حواله یا راپوروړکړي ، چې د**هنری هاید** (Henry  Hyde)  په نوم  یو چا ته  یې ځواب ورکړي ، کوم چې هغه ورته بیرق  (Flag) ورکړي وه .

هو،(**هنری ها ید** ) دا په ا فغا نستا ن کې دخپل سفر په مها ل د (22) ؛ **SAS** ځانګړی سواره نظام کنډ ک په تړاوپه کاغذ کې ګزارش ورکړ شوی کوم چې د تورونو (تهمتونو) بشپړ  نتیجه وړاندې کوي .

**ها ید ځواب ورکړ** :

* شیا ن ډیر نارام کونکی دي .

***اوربان** (Urban)  نور زیات ځواب ورنکړ .

* مونږ د اګست په دریمه نیټه د تویټر له لاری له هغه څخه پوښتنی وکړ.
* Hello Mark @ marurban 01
* تا سی د ډیرو کلونو په موده کي په ا فغا نستا ن کي د (بی بی سی ) نیوز ته مو راپورونه چمتو کړي .
* ولی تا سی د انګلستا ن ځانګړي ځواکونو د یري افغا نی بی وسلی ملکی خلک اعداموی او مهم تورونو ته پا ملرنه نه کویی .

**اوربا ن** (Urban) ځواب ورنکړ :چي دا پخپله دلمریو کلونو (مید یا لینس= Media Lens ) سره په تضاد کی دی ، کله چي **اوربا ن** اوهمدا راز نور لوړ پوړی عمده یا اصلی ژورنا لستان چي زمونږ سره د بریښنا لیکوړنو له لاری د بریښنا لیکونو په ارسا ل ا ومرسول (لیرد اورا لیږد) کی راښکیل دي ، دمثا ل په توګه په (2007) مونږ د«بی بی سی » په راپورکي دهغه پرادعا باندي نیوکه وکړه چي دمتحده ایالاتو سرتیري په عراق کی دمرستی لپاره دلته راغلی وو، البته دا د پروپاګنډ یا د تبلیغ کولو یوه لیک وو ، چي متحده ایالاتو اودهغه متحد ین یی د (2003) کا ل پرعراق با ندی دیرغل اود اشغا ل څخه وروسته دعراق دخلکو قتل عام یا دهغوی وینی تویولو او ګواښولو ته لیوالتیا در لوده هرچا ته څرګنده شو.

بیا دهغه اعتبار لپاره **اوربان** مونږ ته ځواب راکړ ،که څه هم هغه زمونږ تحلیل یی قبول نکړ یعنی چي هغه زمونږ تحلیل رد کړ .

«د ستا سو سره دکور په دننه کی نا ست د پیښی د نظا رت په فلتر کولو کي اوسنی را پیداشوو پیښو یی تعقیبول » .

په حقیقت کی مفهوم دا وو ،چي «**اوربان**» د (بی پری) ، ***بی بی سی نیوز*** خبریا ل په توګه په بشپړ ډول د«نظریا تویا دنظا رت د فلتر کولو» تا بع نه وو ، د اوږدی مودی لوستونکی ممکن **داندریو ماریس** (Andrew Marr's) ورته ادعا په کا ل (2001) کی په ***ډیلی تیلګراف*** کي بیرته یاد کړي چي کله چي هغه د «بی بی سی » سره دسیاسی مدیر په توګه شامل شوو یا په کار وګمارل شوو هغه دنظریاتو اورګانونه په رسمی بنی سره له مینځه وړل شوی وو.

په زړه پوری بنی د ( **اوربا ن** ) لپاره زمونږ تحلیل کوم چي هغه [مونږ] سره په کورکی کی ګډ هم نا ست وو بیا هم زمونږ تحلیل ونه منل ، حا ل داچي زمونږ تحلیل په کا ل (2007) کي دبریتانیا دپوځ دیو خدمتګار افسر لخوا ملاتړ شوی وو ، چي زمونږ د رسنیوو خبرتیا کی یی د «**اوربان**» تبا د لوی بریښنا لیک لوستلی وه اوبیا یی هغه ته ځوابیه لیکلي وو : دپیژندل شوی افسر په خبره هغه نظر چي جګړه ( غیر قا نونی ، غیر اخلاقی اود نه منلو وړ ) وه ځما د ډیرو ملګرو یو ناڅاپی احسا س وو .

په **مید یا لینس** کی ددی بریښنا یی لیک د تبا د لی په پایله کي دبریتانیا د پوځ افسر افکار اونظریات دنیوز ویک په راپور کي یو له لاسه وتلی نا څا پی پیښی په

کوم کي چي داصلی مید یا چي دومره زیاته کړي چی مونږ یی یادونه کړي ، په دغه وخت کي دنیوز نایټ (Newsnight) مد یر **پیټر با ران** (Peter Barran) وو کوم چي دچا سره د **مید یا لینس** ځومدغم او په پوره درناوی دبریښنا لیکونو تبادلی در لودلي .

مونږ په کا ل (2009) د «بی بی سی » او (اوربان ) سره دهغه د (بی بی سی ) دجنګ اود سولی بلاګ کی دجګړی ضد لاریون کونکو په اړه ددی غیر معمولی ادعا په تعقیب یو څه اوږد بریښنا لیکی تبادلی وکړ چی دهغه محتوی په دي ډول وو :

« دا ددوی په لاس را څرګند یدلی چی دهري پیښی شا ته ناسم ګام اوچتول یا پراخه کول وو چي سویلی عراق کي د ډیرو لاسته راوړلو لپاره دسیاسی ارادی په کمزوری کولو کی کلیدی رول لوبولی وو .».

## لکه څنګه چي زمونږ په ځواب کي یا دونه وشوه :

تاسو دجګړي ضد تظاهرات یا لاریون ټول بنیا د یا اسا س په اشتباه سره درک کړی یا غلط پوه شوی یا ست ،دلته بحث دا دي چي دغه یرغل یا تیری غیر قانونی وو ، یعنی دا یرغل په واقیعت کي دعالی جنګی جرمونوکلاسیک نمونه اویو تیری کونکی جنګ وو کوم چي **دنیورنبورګ** محکمه ددی ډول جګړو په اړین مشحصه توضیح ورکړي اوهغه داچي دا دتوپیر نښه نه رامینځته کوي چي آیا دا ډول جنا یتونه مثبتی یا یلی لری ؟ اما د یرغلیز جنګ تر سره کول خپله غیر قانونی دي.

دا په بشپړ ډول معقول یا منطقی تثبیت شوی ټکي دي چي دا په بین المللی عد ا لت کي ریښی لری چي ظاهراً «**اوربان**» له دی نه چي کوم چي هغه نشو درک کولی یعنی چی هغه ته دا موضوع قا بل درک نه وه کوم چي با ید مونږ ته ځواب ورکړي وای :

آیا تاسی انګلیسی سرتیری له نازیانو سره پرتله کوي؟ اما زه دهغو په مینځ کی خو څه توپیر یا تفاوت نه وینم یعنی چی هغوی یودبله سره نشم پرتله کولي اوهغه هم په قانونی اواخلاقی تګل سره .

کله چی دغرب جنا یا ت طرح یا وړاندی کیږي دغه د (ستا ندارد) ا صلی جریان اخلاقی معا د ل سازی ته اړول کیږي هغه مها ل کله چي «نوام چامسکی» د (بی بی سی ) **سیبیستا ین** (Sebastian) تیم سره مصاحبه کول دا سی وویل :

« اخلاقی انډ ولتیا د پرو پاګنډ یوه اصطلاح ده ، چی دهغه کړنو اویا فعالیتونو کوم چي مونږ دهغه په لټه کی یوو یا دهغه دسرته رسولو مسولیت پر غاړه اخلو دهغه څخه مخنیوی کیږي چی ګویا اختراع شوی دي .

د (2009) کا ل په وروستیو اود ( 2010) کا ل په لمړیو کی دسندی تایم ورځپا نه دخپل خبرنګار**جیرم ستارکي** (Jerom Starkey) یوه مقا له په نشرورسول چي دمتحده ایالاتو ځواکونو پواسطه سره د شپی له طرفه چپاو وړل یا دعملیات په تر سره کولو سره

د (اته) تنه افغانی زده کونکو دوژلو جزیات پخپل مقا له کی څرګند کړی یا توضیح کوی وه. مونږ هغه وخت په دوه مید یا یا رسا نیی خبرتیا د (دلته او هلته) تر عنوان لاندی ولیکل او وموښودل چي څرنګه د « نا تو» یو ویاند په پیل کي ددی کړنه یا اقدام څخه انکار وکړحال داچي د ښونځی زده کونکي په سربانډی ویشتل شوی وه چي لمړی دلاسی بمونو له ګذار څخه انکا روکړ اوبیا یی ددوی دوژلو دیټ سا تلو په نیت کیسه بل خواته واړول. غربی چاړواکو دهر وژل شوی هلک کورنی ته د (2000) امریکا یی ډالرو دغرامت ورکولو په توګه وړاند یز وکړ- مونږ د **ستا رکیی** (Jerom Starkey) زړه ور راپور ورکولو ته د تعقیب اصلی مینځګړیتوب نه شتون (عدم موجودیت) څخه یادونه وکړه په شمول د (بی بی سی ) ناکام اود مسولیت څخه په سرغړونو سره د توروونو په راپور ورکولو کی نیوکی وکړ .

په دي دوره کي د **نیوز نا یت** (Newsnight ) تولو خبرونو ته دلاسرسی پرته نا ممکنه نه ده چي په کلکه ووایو چي آیا پروګرام په دي برخه کي ډیر هغه څه راپورکړي که کوم څه دا فغا نستا ن څخه ګذارش ورکولو لپا ره د معمول خبریا ل په توګه د «**مارک اوریان**» مسولیت وه چی با ید په دی برخه کی راپور ورکړای وای.

په هلمند ولایت کي داګست په میاشت د «**سیف الله غریب یا ر** » دخپلوانو څلورو تنوپه وژلو د وروستی انکشا فا تو څخه وروسته (کوم چي مو مخکی ورڅخه یا دونه وکړ) د «**اوربا ن**» لخوا یو ډول د درد تسکین ورکونکي لنډه مقاله داګست په دریمه په (بی بی سی ) نیوز ویب پانه کي خپره شو چي دهغه مقالی سرلیک داسی وو : « په افغانستان کي ددفاع وزیر د (SAS) دالکترونیک برنا می څا رنه » دا بیا همغه ورخ وه چي مونږ هغه تویت کړی وه ، بی له شکه دا په دي معنی دي چي هغه یعنی د دفاع وزیر بی له حده زیا ت د سوالونو ځواب ورکولو کی بخت وو، سره ددی چي دسوال ځواب په څو ثا نیو کی ورکړ شوی وایی نو هغه زیات اوږد وخت د سوال په ځواب کي تیرول اود «اوربان » دراپور زیات تمرکز د بی دفاع اود بی وسلی ملکی وګړو دتګان ورکونکي وژنی یا داعدام په برخه کي نه وه بلکه د هغه راپور په ا فغا نستا ن کي دځانګړي ځواکونو دمخفی ایملونو دمضمون دافشا کولو اویا دهغه په پټ ساتلو باندی پام کړ شوی وو. « په دفاع وزارت کي د پریکړو رامینځته کول ددي پروسی سره چي په دي اوني کی پیل کیږي ترڅو چي بیا کتنه وکړي چي څنګه وزیران ددوی له مینځپا نګي څخه بی خبره سا تل شوی » .

په هغه راپورکی تاکید اویا ټینګا ر د ملی دفاع په وزارت کي دانکشا فا تو اودپوځ په جا نبا زانو د فشا ر د اغیزی په اړه تازه اند یښنی په مینځ کی وو. د **دی سکوادرون** (D- Squadron"s) یا [نظامی یونټ] د سفر تورونه دهر یو (22SAS) فرعی واحدونه په نوبت یا په وارسره(دری) یا (څلور)میاشتنی وخت نیولی دی کوم چی دا څه نوی خبره نه دي.

هغوی مخکې دسلطنتی نظامی پولیس د **نارت مور**(Northmoor) تر څارنی اوبررسی لاندی پریوتي وو ، لوی مها ل یا طولانی تحقیق بی له دی چي پریو جرم کونکي سرتیری با ندي کوم تور ولګول شي یا له هغه څخه دهغه جرم په اړین پوښتنی تر سره شی محکمه بی له کوم قرار پای ته ورسید .جا نبا زان له دی تشویش راوړونکی اوږد سوالونو څخه خپل شکا یت وړاندي کړل .

په دی برخه کي د«قصدی یا لیسی»......تورونه دي چی دزړو سړو سره په جګړه کي ښکیل او وژل دي حتی که دوی ګواښ نه پیښوی ، اما دملکی خلکو دوژلو دجزیاتو له راپور ورکولو څخه ستړی شوی وو ، دا د «**اوربان**» د راپوروبو له متنا سب نمونو څخه وو ،مونږ نشوکولی دهغه تویټرمها ل ویش ، دهغه د «بی بی سی » بلاګ یا هغه څه چي هغه آنلاین یا په کوم ورځپانه کی خپاره کړي وی ملاحظه کړو یا له نژدی څخه وګورو نو په افغان اوعراق ملکی وګړو دځانګړی ځواکونو دعملیاتو داغیزو په اړه کوم مهم معلومات ونه مونده شواودا تقریباُ غیرممکن ښکا ری چي سل په سل سلنه اطمینان او ډاډ د پا یلی یا نتیجه یوه مشخصه مجموعه ترلاسه شی ، اما د مثا ل په توګه که څوک د «بی بی سی » په ویب سایت دمارک اوربان +ځانګړی ځواکونه +«ملکی» کلمو په کاروړلوسره لټون وکړي نو یواځی یو څوک به دخپل پلټنی په ایله کي یوشمیر دګوتو په شمار سره پا یلی به بیرته راستانه کړي کوم چي په هغه کي د غیرنظا می قربا نیا نو په اړه داسی یوه خبره چي پرهغو باندي تاکید شوی وی وبه نه کتل شی .

د مثا ل په توګه په کال (2011) د «اوریان» پواسطه سره د « بی بی سی » د نیوز ویب په سا یت دځا نګړی د سمند ری دهلیکو پتر دلاسه ورکولو په اړین ا ودهغه نومورې ځا نګړی ځواکونو باندی دهغه اغیزی ترسر خط لاندی یومقاله نشرته وسپارل چي د پیښو د یادونی په وروستی پراګراف کي «کله چی افغانان دملکی خلکو د وژل کید و راپور ورکوي دهغه په اړه یا دونه شوی دي . اودا په کلی ډ ول د«**اوربان**» تبلیغا تی ژورنا لیستی موقف ښتلی کول دي کوم چي ډیر وزن دانګلستان تا سیسا تو اود پوځ لمړیتوبونو ته ورکول کیږي ، اما یواځی په ګذ ری بنی د انګلیس په لاس د ورانونکي سیا ست له اغیزی یواځی پر قربا نیانو باندی د انګلستان پا لیسی او اقداماتو ویجاړونکی اغیزی ذکر سره یادونه دی .

مونږ په حقیقت کي د پورتنی اوږد لست کی د «اوربان» ،کتابونه لوستلی نه دي اما دا به هغه ټول امکانات وي یعنی ناڅابه دتمرکز کولو لپاره د (180) درجی تغیر او ګرځید نی دي البته نه دانګلسان وسله والوځواکونو باندي بلکه ددوی پر قربا نیا نو باندي ، « د اوربان کتاب په بیا له سره نظارت اوکنترول کی د تاسک فورس ( Task Force) بلاګ په عراق کي دپټوځا نګړی ځواکونو دجګړی بلاګ په عراق کی د مخفی ځا نګړي ځواکونو کیسه د کتونکي بهرنی جریان دجګړی ناڅا بي ریښتینی جاسون برک (Jason Burk) داسی یادونه کړی دي :

لږ اویا څو تنو خبریالان دبریتا نیا د ځا نګړي ځواکونو په دي ترلي نرۍ کي دکومی سرچینې په تزکیه یا په سپینولوبا ندي بریا لی کیږی؟ «اوربان » لسګونو کسان وموندل چي په بی ساري توګه سره پر نومورې موضوع باندی روښانه خبری کړی یا څرګند توضیحات ورکړی وو.

د «مارک اوربان» دسوابقو په کتنی سره کوم چي هغه دانګلیس دځا نګړي ځواکونو په مینځ کي داخلی سرچینو ته په روزنه ورکولو اودانګلستان نظامی اواستخباراتی ادارو ته دهغه دپراخی لاسرسی سره څومره امکان لری چي هغه د بی ګنا ه ملکی وګړو داعدام جدی تورونو په اړه به څه نه پوهیږی ؟؟؟ کوم چي پرډی موضوع باندی کلونه کلونه تیریږي؟ ددی تولوتورونو دجدی پلټني لپاره دهغه لیوالتیا خورا ډیر دپام وړ ده ، «جانسون برک= Jason Burk » یادونه کوي چي « اوربا ن » ددفاع وزارت سره لانجه کول تر څو چي خپل کتاب خپورکړی مګر بیاهم زیا توی.

دحیرانتیا ځای دی او هغه داچي ممکن د انګلیس د ځانګړی ځواکونو پر عملیا تو با ندي دهغودنیوکی کونکی پواسطه سره په وایټهال(whitehall) کی چي ښه راغلاست وویل شویاچی دهغوی دکړنو څخه استقال وشو هغه څه دي چي د تعجب موجب وګرځید او دلیکوال شخصی ستا ینه له هغه چا څخه دي کوم چي هغه همدغه موضوع را مینځته کړي اودا بلکل روښا نه دي چي ژبه د نفس کښلو په وخت کی یوی خوا ته منحرف کیږي – دبریتا نیا انتخاب شوی سرتیری (خپل ځانګړی هوایی خدمت = SAS) ترلاسه کړي وو یا چی یی تعین کړی وو، دیو سرتیری لپاره داور وژنی (حماسی) ستونزمن غوسه او قهر وي .

ایا د دې افرادو لپاره د لیکوال "شخصي ستا ینه" به دومره لوړه وي که چیرې هغه د ځانګړي ځواکونو لخوا د بې وسلې ملکي خلکو وژلو د یرې معتبر حسا بونه څیرلي وي او راپور یې ورکړی وي ، نو بیا وروسته د پوښښ په ساحو کې د ناوړه هڅو سره ، که ددفاع وزارت له طرفه لارښونه شوی نه وي.



دپام وړ ، د نومبر کال « 2010» د (نا تو) ترمشری لاندې ځواکونو پواسطه سره د ښوونځي د اتو ماشومانو د وژل کیدو نږدې یو کال وروسته د سنډې تایمز له خوا راپور

*ورکړ شو ،« **اوربان** » د نیوز نا یټ لیدونکو ته وویل:*
*"د ایتلاف د لومړیو کلونو لویه تېروتنه دلته په افغان ځواکونو کې کمه پانګه اچونه وه."*
*دا په ځانګړي توګه د"ایډ یا لوژی فلترکولو" ته اړتیا لري ،کوم چې دا پخپله د«**اوربان** »*
*د کلما تو په کاروړل دي ، اوهغه هم ددی لپاره چی عامه اذهان دغربیانو جنایاتو ته په*
*تسلیم امیز بڼی سره راجلب کړی کوم چي په افغانستان اوعراق کې دښوونځي ماشوما نو*
*او نورو بې وسلې ملکي وګړو په وژنه کې یی لاس لرل پرهغه جرمونو باندي برغولی*
*کیږدي .*

**------------------------------------ په درنا وی «2020-09-12 »**